ليکوال: سلام خان نېټه ۲۰۱۱-۰٤-۰٦

# قرآن شریف د جهان د ټولو مسلمانانو مقدس کتاب دی

له هغه وروسته چي د امریکا په فلوریډا ایالت کي د یوې ډیر ورې کلیسا مشر(جونزتیري) دنن څخه څه د پاسه ۱۵ ور ځی مخکی په کلیسا کي د ننه یوه جلد قران شریف وسوځاوه، قران شریف د نړی دټولو مسلمانانو مقدس کتاب دی لازمه ده چی د نړي ټولو مسلمانانو په دی اړه غبر ګونونه ښودلی وایی او د امریکا د حکومت څخه یی په کلکه غوښتنه کړی وایی چی د نوموړی کلیسا مشر اوقران شریف ته د بی احترامی په تور محاکمه کړی که څه هم په ځینو اسلامی ملکونو کي مسلمانانو په دې اړه بیلابیل ډیر نرم د احتیاط ډک غبرګونونه وښودل. خو یوازی او یوازی په افغانستان کی په همدې لړ کي زرګونو لاریون کوونکیو لومړی د تیری د جمعي له لمانځه وروسته په مزار شریف ښار کي د ملګرو ملتونو د یوناما دفتر وسوځاوه او اته کارکوونکي یې ووژل او تر هغه یوه ورځ وروسته دکندهار، ننګرهار، لغمان په ولایتو کی په زرګونو خلګو د شارو کوځو ته را ووتل چی تنها د کندهار دولایت په پا څون کی ټولټال ۳۰ کسان ووژل شول او یو سلو پنځوس کسان په کی ټپیان شول، دا په دی خاطر چي د قران کریم د سوځولو انتقام په امریکا کي د کلیسا د مشر پادري( جونز تیري) څخه واخلي نو په کندهار ښار کي یې پر دولتي او ملکي تاسیساتو، دوکانونو، ښوونځیو او مارکیټونو بریدونه وکړل او اور یې ورته ورته کړ. پوښتنه دا ده چي کندهاریانو د خپل ښار په سوځولو سره د چا څخه انتقام اخیستي او چا ته یي غوښتل چي زیان واړوي آیا پدې سره هغه فاسد د کلیسا مشر زیانمن سو او یا خواشیني سو، برعکس بلکه هغه به ډیر خوشحاله سوي هم وي ځکه هغه د اسلام او مسلمانانو د ښمن دي او په هر ډول چي امکان ولري غواړي چي مسلمانانو ته زیان واړوي، خو د کندهارخلګو د هغه د زړه د خوشي کار وکړ او د هغه سره یي مرسته وکړه او په خپل ښار او کورکی یی اور بل کړې او بالاخره خپل ښار یي وران کړ، خپل دوستان او وطندراران یې مړه کړل او مالي زیانونه یې ور پیښ کړل او په سلګونه کورنۍ یي د غم په ټغر وژړه ول.

په نړۍ کي چی کله هم اسلامي ارزښتونو ته سپکاوی شوی، تر ټولو شدید غبرګون پرې د افغانستان خلکو ښودلی، خو دا غبرګون تر ډېره سم او پر ځای غبرګون نه و. موږ د اسلامي ارزښتونو د سپکاوي په وړاندې چي کله لاریون ته را وتي یو، نو لومړی زیان مو خپلو خلکو او خپلو هېواد ته اړولی او د دې پر ځای چي په اساسي لارو فکر وکړو، په چیغو او احساساتي عملونو مو خپل قهر سوړ کړی دی او دښمنانو هم له دې ډول غبرګونونو څخه ناوړه ګټه پورته کړي او لا یې هم د افغانانو او مسلمانانو پر وړاندې خپلو هڅو ته زور ورکړی دی، د افغانستان په ګاونډیو ملکونو کی خصوصا ایران او پاکستان کی په دی باب نه د حکومتونو او نه هم دخلګو له لوری کوم عکس العمل تر ستر ګو شول په ایران کو خو د دی پر ځای چی د قران شریف د درناوی په خاطر کوم عکس العمل وښودل شی هغوی د نوروز پرمیلو تر اوسه مصروف دی. دا دواړه ملکونو داسی خاموشی اختیار کړه چی لکه څوک چی فکر وکړی چی اسلامی ارزشتونوته هیڅ صدمه نه وی رسیدلی او تنها افغانان د ي چی له خپله ځانه احساسات ښییی، داسی معلومیږی چی ایران د افغانانو د پاکو احساساتو څخه په مزار شریف کی ناوړه استفاده کړی وي او په دی بهانه یی د خپلو ( ۹) تنو دیپلوماتانو انتقام واخیست کوم چی د طالبانو په دوران کی په همدی مزارشریف کی په قتل رسیدلی وو .

له افغانستان پرته په ټوله اسلامي نړۍ کي چوپتیا ده، د ځینو اسلامي هېوادونو چارواکي په خورا نرمو الفاظو دا وحشیانه کار غندي، داسي چي سړی فکر کوي، اسلامي احساسات یې په بشپړ ډول له منځه تللي، داسي لکه د یو بل دین پیروان چي وي، خو اسلامي ارزشتونو ته سپکاوی غندی، د عربي نړۍ ټېل همغسي امریکا ته روان دي او د اسلامي نړۍ ډېری واکمنان لا هم خپل ساتونکی امریکا ګڼي او داسي انګیري چي ګواکي عزت او ذلت دواړه د امریکا له لوري دي.

پوښتنه هم دا ده، چي ایا دا وروستی غبرګون وړ غبرګون و؟ ایا د انتقام اخیستو لپاره یوازینۍ لاره همدا وه؟ دغه ډول غبرګونونه به په راتلونکي کي د دغه وحشي پادري په څېر کسان له دغه ډول عملونو څخه را وګرځوي؟ او بللاخره د قران ساتلو یا د اسلامي ارزښتونو څخه د دفاع لاره همدا ده؟

په ډېره اسانی سره ویلای شو، چي دا د اسلامي ارزښتونو د ساتلو لپاره وړ او یوازینی لار نه ده، دغه ډول اعمال نه یوازې دا چي د وحشي کفارو د اسلام ضد اعمالو مخه نه شي نیولای، بلکې لا هم اسلامي امت د دوی له اصلي او بنسټیزې اړتیا او دندې څخه لرې کوي.

په افغانستان کي د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ستیفن ډیمیستورا د قرآن شریف د سوځیدنې په تړاو د افغان ولسمشر حامد کرزی اعلامیه له احساساتو ډکه بللی ده، ډیمیستورا له بی بی سی سره په خپلو خبرو کی وویلی دي


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

چې په ورته موضوع د خلکو د غبرګون ورته هیله کیده، خو ويې ویل چې افغان پولیسو باید د تاوتریخوالي د پېښېدو مخه نیولی وای ډیمستورا همدا راز وویلی دی چې ولسمشر حامد کرزي په امریکا کې د یوه عیسوي پادري لخوا د قرآن کریم د سوځېدنې د پیښې دغندلو په تړاو دغه ډول اعلامیه باید مخکې تر مخکې ښه ارزولې وای چې کیدی شي هره کلیمه يې اور بل کړي.

ډیمیستورا په خپلو خبرو کی دا هم وویلی دی چی افغانستان یوه دودیزه مذهبي ټولنه ده چې اوسیدونکي يې د اسلامي ارزښتونو په اړه ډېر حساس دي او هره کوچنۍ تیروتنه په دې برخه کې ستړې ستونزې راپارولی شي.

خو د ملګرو ملتونو دغه استازي د امریکا په فلوریډا ایالت کې قرآن سوځوونکی پادري هم ملامت کړ، چې په خپل دې کار سره يې نه یوازې په افغانستان کې د مسلمانان غصه راوپاروله، بلکې دلته د بوختو شاوخوا دوه سوه زره بهرنیانو ژوند يې هم له ګواښ سره مخامخ کړ.

”دغه کس چې قرآن پاک يې سوځولی، ډېر بد کار يې کړی دی، ځکه چې هغه باید پوی شوای وای چې دا مساله په نړۍ کې څومره حساسیت راپارولی شي. او په دې هم باید پوی شوی وای چې دا کار يې به افغانستان کې د بوختو ۱۸۰ زره پوځي او ملکي بهرنیانو ژوند له ګواښ سره مخامخوي، پر همدې مهال زه افغانان نه ګرموم، خو د اکار دا نه توجیه کوي. افغان پولیسو باید دغه خلک تاوتریخوالي ته نه وای پرېښي“ .

دا یو احساساتي عمل دی، چې په یوې محدودې جغرافیه کې د یو محدود وخت لپاره، د یوې پېښې په وړاندې ترسره شو، په داسې حال کې چې زموږ مسوولیت تر دې ډېر لوړ دی. موږ باید د قران سوځونې د یوې پېښې په وړاندې، داسې کړنې ترسره نه کړو چې له دې پېښې سره هیڅ تړاو ونه لري، بلکې موږ باید هغه ځای ته ځان ورسوو چې په بشپړ ډول د اسلامي ارزښتونو د ساتلو وړتیا ولرو. موږ باید د احساساتو پر ځای پیاوړی فکري اسلامي خوځښت وکړو او مسلمانان باید ځان د نړۍ په یو داسې ځواک واوړي چې بیا هیڅوک د دې وحشي پادري په شان اسلامي ارزښتونو ته په ټیټه سترګه ونه ګوري.

قران کریم د خداي ج کتاب دي او خداي تعالي د هغه ساتنه د تل لپاره کوي خداي ج فرمایلي چې ما قران نازل کړي او د هغه ساتونکي یم، نن د میلیونونو انسانان په زړونو کې قران حفظ دي او قران کریم په لسګونو ژبو ژباړل سوي دي پر قران کریم باندې په میلیونونو انسانانو ایمان راوړي دي نو آیا د قران د یوې نسخې په سوځولو سره د یوه فاسد او شیطان صفته انسان پواسطه و هغه ته کوم زیان نه رسېږي. نه بلکې هغه شخص بر عکس د ټولو مسلمانانو د کرکې او لعنت سبب ګرځیبو ځل بیا وایو، چې دا له اسلامي ارزښتونو څخه د دفاع سمه لاره نه ده، بلکې دا ډول کړنې به لا هم موږ ته ستونزې پیدا کړي او د اسلامي ارزښتونو د ساتلو په چاره کې به هیڅ ډول مثبت اغیز ونه کړي.

به افغانستان کې د امریکا سفیر کارل ایکین بیري هم په امریکا کې د یوه پادري له لوري د قرآنکریم سوځونه غندلی او ویلی یی دی چې: غواړم تاسو ته اطمینان درکړم چې د یوه کس کرکجن او د نه زغملو وړ عمل په متحدو ایالتونو کې د مذهبي تنوع د منلو او ورته د احترام لرلو د ارزښتونو ښکارندویي نه کوي، نوموړی په یوه اعلامیه کی چې په کابل کی خپره شوی ده ویلی دې چی د مقدسو کتابونو سو ځول دهغه څه اختلاف دی چی دامریکا خلک پری باور لری، ایکین بیري ویلي:«موږ الهي کتاب قرآنکریم او نورو سپېڅلو کتابونو ته درناوی لرو او هر هغه عمل چې هر راز دیني عقیدې ته بې احترامي وي، غندوو.»

په تاند کی دیوه را پور پر بنیاد طالبانو په یوه اعلامیه کې، چې د دوی د ویاند له لوري خپره شوې، د یوه امریکایي پادري له له خوا د قرانکریم د سوځېدو په وړاندې په افغانستان کې وروستۍ مظاهرې له دې سره سره ستا یلی چې په تر ځ کی یی په لسګونو تنه ووژل شول طالبانو په مظاهرو کې خپل رول رد کړی او د افغان پولیسو له لوري يې له مظاهره چیانو سره تاوتریخوالی غندلی دی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ